# حقوقُ الرِّجال

یعنی

# د خاوند حقوق

Download from:aghalibrary.cm



شیخ العرب والعجم عارف باللہ مجددِ زمانہ حضرت مولانا شاہ حکیم محمد اختر صاحب رحمۃ اللہ علیہ

ادارۂ تالیفاتِ اختریہ
www.hazratmeersahib.com

www.facebook.com/Ezatullah.sultanzai

# حقوقُ الرّجال

# یعنی

# دخاوند حقوق

شیخ العرب والعجم عارف باللہ

حضرت اقدس مولانا شاہ حکیم محمد اختر صاحب رحمۃ اللہ علیہ

اداره تالیفات اختریه
www.hazratmeersahib.com

www.facebook.com/Ezatullah.sultanzai

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

دکتاب ځانګړني :

دکتاب نوم        حقوق الرجال یعنی دخاوند حقوق

لیکوال        حضرت مولانا شاه حکیم محمد اختر رح

ژبه        پښتو

سکن کوونکي:        عزت الله سلطانزي

پر لیکه کوونکي        عزت الله سلطانزي

تاسي کولي شي ددې کتاب نوي چمتو شوي متن PDF په بڼه زمونږ له لاندېنۍ پتو څخه تر لاسه کړۍ

واټس اپ ، تلیګرام او ټلیفون لاندېنۍ شمیرې سره اړیکه ونیسئ

0093706912702

اویا هم لاندي بریښنالیك او فیسبوك پاڼي سره اړیکه ونیسئ

Esultanzai@hotmail.com

azatullahsultanzai@gmail.com

www.facebook.com/Ezatullah.sultanzai

یادونه : ګرانو لوستونکو که تاسی د کوم کتاب سافټ لري مهرباني وکړي زمونږ برېښنالیک ته یي را واستوۍ مونږ به یي په ټولنیزو شبکو او ویبپاڼو کي نشرکړو .

# دخاوند حقوق

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ وَکَفٰی وَسَلَامٌ عَلٰی عِبَادِہِ الَّذِیْنَ اصْطَفٰی اَمَّا بَعْدُ ○ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ○ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ○ تَبٰرَکَ الَّذِیْ بِیَدِہِ الْمُلْکُ وَھُوَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرُ ○ الَّذِیْ خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَیٰوۃَ لِیَبْلُوَکُمْ اَیُّکُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا ؕ وَھُوَ الْعَزِیْزُ الْغَفُوْرُ ○

محترم اوریدونکو،زما خوندو او مندو!﴿ښځو په پرده کی بیان اوریدی﴾ حق تعالیٰ قرآن پاک زمونږ دهدایت دپاره نازل کړی دی (په دې خاطر) چې هر سړی خپل ژوند دخدای پر مرضی باندی تیر کړی. اللہ پاک دقرآن شریف د نویشتمی سیپارې په سورتِ مُلک کی ارشاد فرمایی چې دغه دنیا د امتحان ځای دی او حق تعالیٰ مونږ دنیا ته د امتحان دپاره را لیږلی یو، د عیش دپاره یې نه یو را لیږلی لهٰذا د نفس او شیطان پر لار تلل او خپل رب خوابدی کول او بیا په قبر کی ځان په عذاب اخته کول نادانی او بې عقلی ده.

## ژوند د تیرولو طریقه د ښوولو حق څوک لری

په دنیا کی هیڅوک دغه حق نه لری چې مونږ ته د ژوند د تیرولو طریقه را وښووی، نه امریکا، نه افریقه، نه روس، نه جاپان هیڅوک دغه حق نه لری چې مونږ ته د ژوند طریقه را وښووی، ژوند د تیرولو طریقه د ښوولو حق صرف حق تعالیٰ لری او حق تعالیٰ ونبی علیه السلام ته دغه حق ورکړې دی چې مونږ ته ژوند د تیرولو طریقه راوښووی،

دخپل رب پر رضا باندی په تگ سره موږ په دنیا او آخرت کی پر آرامه اوسیدای سو، په دې خاطر چې حق تعالیٰ زموږ خالق او مالک دی، که یو څوک خپل مالک خوابدی کړی نو ټوله دنیا هغه ته آرام نسی ورکولای او مالک هم داسې طاقتور مالک دی چې تر هغه طاقتور بل هیڅوک نسته. ډیرو ښځو سینما، وی سی آر، غزلی اوریدل، بې حیا دباندی راوتل او دخدای په نافرمانۍ کی ژوند تیرول شروع کړی لاکن کله چې دخدای غضب پر نازل سو او د وینو فشار، کینسر، په پښتورګو کی ډبری او په داسې نورو خطرناکو ناجوړیانو کی اخته سولې نو دهغو ټوله عیش او حسن په خاورو کډ سو.

اوس دداعه هفتې خبره ده چې دلته په جنوبی افریقه کی زما د یو دوست اوولس کلنه لور د موټر په ټکر کی سره سوله، تر اوسه یې واده هم نه وو سوی. په دې خاطر نر وی که ښځه هر وخت باید دغه فکر وکړی چې معلومه نه ده حق تعالیٰ مو څه وخت وغواړی او حساب و کتاب مو شروع سی چې راته ووایه تا ژوند څنګه تیر کړی؟.

زما خوندو او منډو! دا دحق تعالیٰ انعام دی چې څوک دخدای پر لاره ولاړ سی هغه نر وی که ښځه **فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيٰوةً طَيِّبَةً** نو حق تعالیٰ به هغه ته دلطف او خونده ډک ژوند ورکړی او ډیر د آرام او قرار ژوند به ورکړې او کوم نر چې دخدای نافرمانی وکړی هغه هیڅکله پر آرامه نسی اوسیدای همدغه رنګه کومه ښځه چې دخدای دمرضی پر خلاف بې پرده وګرځي، لمونځ ونه کړی، خاوند په عذاب کړی، دخدای هر رنګه نافرمانی چې وکړی نو دهغې ژوند به ناآرامه وی، هغه هیڅکله نسی پر آرامه کیدای او چې کوم وخت مرګ ورته راسې نو دګناوو ټوله خوندونه به یې ختم سی.

حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمة الله علیه به فرمایله چی کوم نر او کومه ښځه خپل اصلاح وغواړي نو هغه دی هره ورځ دغه مراقبه(فکر) وکړی چی زه مړ سوم او ماته غسل راکول کیږی بیا بې په کفن کی وپیچلم او په قبر کی یې ښخ کړم او ځو منه خاوري یې راباندی واچولې؛

## د زړه د سختی او غفلت علاج

مولانا اشرف علی تهانوی رحمة الله علیه چا چی بهشتی زیور کتاب لیکلی دی، ډیر لوی عالم دی، هغه فرمايي چی دچا زړه سخت سوی وی او دخدای د یاد پر ځای دکناوو د تقاضو څخه په عذاب وی یعنی په زړه کی یې سختی راغلې وی چی په عربی قساوه ورته وايي نو دداسی زړه د اصلاح دپاره په حدیث شریف کی یوه نسخه بیان سوې ده.

حضرت عایشه رضی الله عنها چی زموږ مور ده دنبی علیه السلام ښځه او د ابُو بکرصدیق رضی الله عنه لور ده، هغې ته یوې ښځی وویل چی اې زموږ مور نن سبا زما زړه په لمانځه کی او د قرآن شریف په ویلو کی نه لګیږی، زړه می سخت سوی دی څه وکم؟ اُمّ المُؤمنین حضرت عایشه رضی الله عنها ورته وفرمایل چی ته یو کار وکه، هره ورځ مرګ یادوه چی مړه سوم، اهل و عیال، ښه ښه کالی، ښایسته کور ټوله راڅخه پاته سول، څو شپې وروسته هغه ښځه راغلله او ورته وې ویل چی اې زموږ مور حضرت عایشه رضی الله عنها حق تعالی دی تاته خیر درکړی زما زړه دخدای سره ولګیدی، د زړه سختی می لیری سول، اوس لمونځ هم خوند راکوی او د قرآن شریف ویل هم خوند راکوی.

ددې حدیث په رڼا کې حضرت تهانوی رحمة الله علیه فرمایي دچا زړه چې سخت سوی وی، ګناوی نه ځنې پاتیږی، دخدای ویره نه ورمعلومیږی، دګناوو په تقاضو سره د لیونیانو په شان دګناوو وطرف ته ورځغلی او هغه ته دخپل بندګی هم احساس نه وی چې زه دچا بنده یم او زما یو مالک هم سته که یا، دداسې سخت زړه خاوندانو دپاره یې عجبه علاج وفرمایلی کوم چې سل فیصده انشاءالله ګټمند دی.

نر وی که ښځه هر څوک چې دغه علاج وکی دهغه زړه به نرم سی، دخدای سره به یې زړه ولګیږی او د نفس او شیطان څخه به لیری سی، هغه کوم علاج دی؟ (هغه علاج دغه دی چې) هره ورځ چې بیدیږې نو ښځه دقیقې دغه فکر وکه چې حق تعالیٰ زه وغوښتم او مرګ راته راغلی، زما نفس وختی، اوس غسل راکوی، دغسل وروسته کفن راکوی، بیا می خلک قبرستان ته وړی، زما مور او پلار، ښځه او کوچنیان، کاروبار، ښې غالی، ښه کالی او زر تولیه راڅخه پاته سول، زه یوړم او په قبر کی یې ښخ کړم او څو منه خاوری یې را باندی واچولې او ټول راڅخه ولاړه، زما ګواکې داسې حال دی .

**شکریہ اے قبر تک پہنچانے والو شکریہ**

**اب اکیلے ہی چلے جائیں گے اس منزل سے ہم**

**ترجمه**: ډیره مننه اې تر قبره پوری را رسونکو ډیره مننه، اوس به زه یوازی ددې ځایه څخه ولاړسم

او دا مری که نر وی او که ښځه په حقیقت کی دا شعر وایي

ددې حدیث په رڼا کې حضرت تهانوی رحمة الله علیه فرمائي دچا زړه چې سخت سوی وی، ګناوی نه ځنې پاتیږی، دخدای ډیره نه وزمعلومیږی، دګناوو په تقاضو سره د لیونیانو په شان دګناوو وطرف ته ورځغلي او هغه ته دخپل بندګی هم احساس نه وی چې زه دچا بنده یم او زما یو مالک هم سته که یا، دداسی سخت زړه خاوندانو دپاره یې عجبه علاج وفرمایلی کوم چې سل فیصده انشاءالله ګټمند دی.

نر وی که ښځه هر څوک چې دغه علاج وکی دهغه زړه به نرم سی، دخدای سره به یې زړه ولګیږی او د نفس او شیطان څخه به لیری سی، هغه کوم علاج دی؟ (هغه علاج دغه دی چې) هره ورځ چې بیدیږې نو پنځه دقیقې دغه فکر وکه چې حق تعالیٰ زه وغوښتم او مرګ راته راغلی، زما نَفَس وختی، اُوس غسل را کوی، دغسل وروسته کفن را کوی، بیا مې خلک قبرستان ته وړی، زما مور او پلار، ښځه او کوچنیان، کاروبار، ښې غالی، ښه کالی او زر تولہ راځخه پاته سول، زې یوړم او په قبر کې یې ښخ کړم او څو منه خاوری یې را باندی واچولې او ټول راځخه ولاړه، زما ګوآکې داسی حال دی .

**شکریہ اے قبر تک پہنچانے والو شکریہ**

**اب اکیلے ہی چلے جائیں گے اس منزل سے ہم**

**ترجمه**: ډیره مننه اې تر قبره پوری را رسونکو ډیره مننه، اُوس به زه یوازی ددې ځایه څخه ولاړسم

او دا مړی که نر وی او که ښځه په حقیقت کې دا شعر وایي.

دبا کے قبر میں سب چل دیئے دعا نہ سلام

ذرا سی دیر میں کیا ہو گیا زمانے کو

**ترجمه:** په قبر کې یې ښخ کړم تول راځخه ولاړل نه دعا او نه یې سلام وکړی، په دا لږ وخت کې څه وسول په زمانې

فکر وکه چې هیڅوک زما سره قبر ته نه راغله، ټولو پرېښوولم، نه مور په کار راغله نه پلار، نه خاوند په کار راغلی نه کوچنیان، په قبر کې یوازې پرته یم، اُوس په قبر کې سوالونه راځخه کیږی چې ستا رب څوک دی؟ بیا فکر وکه چې دقیامت ورځ راغلل، دحق تعالیٰ وړنه مور ټوله حاضری ور کوو او حق تعالیٰ پوښتنه راځخه کوی چې اې ښځې تا خپله ځوانی چیری مصرف کړل؟ حیلی سترګې دی کوم ځای مصرف کړې؟ لمونځ دی کاوه که یا؟ روژه دی نیول که یا؟ دنامحرمه او بیګانه خلکو څخه دی پرده کول که یا؟ که می عملونه صحیح وه نو جنت به راته حاصل سی او که می عملونه خراب وه نو ملایکی به می دوږخ ته ور وغورځوی، ټوله عیش به می دېږی تر لاری ووځی.

دغه دنیا د امتحان ځای دی، مور دلته دیو څو شپو دپاره راغلی یو، دخدای دپاره مور هم باید پر خپل ځان باندی رحم وکړو او تاسی هم پر ځان باندی رحم وکړی. دیو څو شپو دګناوو خوند ته مه ګوری، دهمیشه ژوند ته وګوری چې په آخرت کې یې حق تعالیٰ ټولو ته ورکوی، حق تعالیٰ دی مور ټوله دجنت پر لاره روان کړی.

ما عرض درته کوی چې هره ورځ د اصلاح دپاره قبرستان یادوی چې د اوولسو کالو انجلی دچا چې تر اوسه واده هم نه وو سوی

د موټر په ټکر کی مړه سوله، داسی ځونه ځوانانی انجونی په قبر کی پرتي دی لهٰذا دغه فکر مه کوی چی موږ سپین سری سو بیا به موږ دخدای دوستانی کیږو او جنت به کتو، داسی فکر صرف بې عقلی ده په دې خاطر چی حق تعالیٰ په کوچنیوالی هم چاته مرګ ورکوی او په ځوانی هم چاته مرګ ورکوی او چی هر څوک هر وخت وغواړی هغه ځان ته وبولی.

په طبیه کالج(فاکولته) اِله آباد(هندوستان) کی چی ما سبق ویلی نو زما یو اته لس کلنه اندیوال وو چی زما سره طبیه کالج ته تلی، یوه ورځ یودم ناجوړه سو او وفات سو، زه په روخستی کی کلی ته تللی وم چی بیرته راغلم نو دهغه کور ته ورغلم، دروازه می ور وټکول، مور یې راووتله، ما ورته وویل چی زما هم جماعت، زما دوست چیری دی؟ هغې راته وویل چی هغه خو په قبرستان کی پروت دی نو د ژوند هیڅ باور نسته.

په مکه شریفه کی صولتیه مدرسه ده، دهغې مدرسې دمُهتمم سکه ورور، دپنځه څلویښتو کالو وو، چای یې چیښلې، هیڅ ناجوړی یې نه در لودل، هیڅ وخت د زړه حمله نه وه پر راغلې، روغ جوړ سړی وو، یو غوړپ چای یې وچیښلې پیاله یې د لاسه ولویدل او وفات سو. په دې خاطر هر وخت مرګ خپل مخته ونیسی. په داغه خاطر زموږ بزرګانو عمری زموږ دهدایت دپاره دغه شعر وایه

نہ جانے بُلالے پیا کس گھڑی
تورہ جائے تکتی کھڑی کی کھڑی

**ترجمه:** معلومه نه ده رب دی څه وخت وغواړی او ته حیران پاته سې

# ژوند څه وخت او پر چا قربان کړو؟

معلومه نه ده حق تعالیٰ مو څه وخت وغواړی، دهیچا ضمانت نسته چې موږ به دونه شپې ژوندی یو نو بیا دغه فکر کول چې موږ سپین ږیری سو یا سپین سری سو بیا موږ بنه حج او عبادت کوو لاکن زما خوندو او مندو چې کله تاسی غوښی په چا را غواړی نو څه وایاست چې د بوډا وزکړی غوښی راوړه؟ او که داسی وایاست چې دځوان وزکړی غوښی راوړه؟ زما خبره بنه په فکر سره واوری، راته ووایاست چې د ژوند کومه حصه بنه ده ځوانی که سپین ږیروالی؟ دژوند کومه زمانه بنه وی؟ د ځوانی زمانه تر ټولو بنه ده، نو الله او رسول ته کومه تحفه ورکوې؟ دځوانی تحفه او که دسپین ږیروالی؟ شرم باید وکړل سی او توبه باید وکښل سی چې د الله او رسول دپاره مو څه فکر کړی دی چې سپین ږیری سو، یوولس نمبره عینکی مو پر سترګو سی، ملا مو کږه سی، څوک انا سی، څوک نیکه سی هغه وخت به پیری کی مو دخدای د یاد فکر کړی دی، ډیره دناشکری خبره ده، خدای موږ او تاسی ته ځوانی را کړې ده، پر خدای یې باید قربان کړو.

دچا په حسن مه خطاوزه، دحسن پرستی څخه توبه وکاږه، دغه فانی شیان دی. تاسی وګوری چې کومه انجلی د شپاړس کالو ده یو وخت به انا سی، یوولس نمبره عینکی به یې پر سترګو سی، په خوله کی به یې غاښونه هم نه وی، کږه کږه به ګیږی، د هلکوانو همدغه رنګه حال دی، نن چې د شپاړسو او اته لسو کالو بنه ایسی یو څو شپې وروسته به یې بارخوګان وزړیږی، غاښونه به یې ووځی، وریښتان به یې سپین سی او یوولس نمبره عینکی به یې پر سترګو سی او سپین ږیری به سی. پر دې بانډی زما شعر دی

کمر جھک کے مثل کمانی ہوئی

کوئی نانا ہوا، کوئی نانی ہوئی

**ترجمه**: ملا یې کږه په مثل دکمانی سوله، څوک انا سوله څوک نیکه

لهٰذا پر ظاهری حسن باندی مه کیږی، خپل رب یاد کړی، په قبر کی چې کوم وخت پر سړی عذاب شروع سی نو دکناوو ټوله خوندونه به یې تر پزی راتوی سی، پر لګیدلی څراغ باندی یا پر تود تبخی باندی ته ګوته کښیږده نو به (ددوزخ اور) در معلوم سی، ډیره دبې فکری خبره ده چې موږ دقبر دعذاب څخه ونه بیریږو، که څه هم (دقبر دعذاب) خبر را کونکی نبی علیه السلام صادق او امین دی، دچا دصداقت شهادت چې دښمنانو هم ورکوی، په دې خاطر دخدای محبوب رسول چې څه وفرمایل پر هغه باندی ایمان راوړی.او پر هغه باندی یقین وکړی. (ددې مثال لاندی واوری)

## دمعراج په قصه دسر خلاصیدو دپاره یو مثال

لکه یو ماهی چې ددریاب دباندی دغه وویني چې ښکاریان زموږ دښکار دپاره راغلی دی، دهغو سره جال هم سته او چاقو او چاړه هم ورسره دی، کوم ماهی چې دغه ولیدل هغه بیرته راغلی او په اوبو کی یې ونورو ماهیانو ته وویل چې ګوری ددریاب دباندی ښکاریان راغلی دی، لږ هوښیار اوسی، ستاسی دنیولو دپاره دهغو سره جال هم سته او ستاسی غذا هم ورسره سته، چاړه او چاقو هم ورسره سته، که تاسی دهغو په جال کی راغلاست یا ستاسی دنیولو دپاره چې کومه غذا ده هغه مو وخوړل نو تاسی به ونیسی، بیا به تاسی په چاقو ټوټه ټوټه کړی،

بیا به غوړی تاوده کړی تاسی به پکښی پاخه کړی او (دښکاریانو) دوه دیرش(۳۲) غاښونه به ستاسی یوه یوه ټوټه وخوری او ستاسی هډوکی به پیشیانی او سپیان وخوری، نورو ماهیانو سره وویل چی دغه ماهی موږ خطاباسی، دښکاریانو غذا وخوری او عیش کوی، دلته نه جال رامعلومیږی نه چاره او نه چاقو، نه ښکاریان سته او نه اور سته.

ماهیان بې فکره سول او په داغه بې فکری کی یې هغه غذا هم وخوړله کوم چی ښکاریانو دماهیانو دنیولو دپاره اوبو ته ورغورځولې وه، ماهیان چی ښکاریانو ونیول او دباندی یې را وایستل بیا دهغو زړه ته ولویدل چی هغه ماهی خو صحیح ویل، ښکاریانو دغه ماهیان ټوټه ټوټه کړل، بیا یې په غوړو کی کباب کړل او پاخه یې کړل بیا هغو په دوه دیرش غاښو وخوړل، ددې وروسته سپیانو او پیشیانو یې هډوکی هم وخوړل، اُوس ورمعلوم سول چی هغه ماهی خو صحیح ویل لاکن اُوس هیڅ فایده نه لری، بې له لیدو که یې خبره منلې وای نو دغه ورځ به یې نه وای لیدلې لهٰذا چاچی دهغه ماهی خبره ومنله هغه وساتل سول.

(همدغه رنګه) نبی علیه السلام دمعراج په شپه آسمانو ته ولاړی آخرت یې ولیدی، دوږخ او جنت یې ولیدی، دحق تعالیٰ دیدار یې وکړی او دحق تعالیٰ سره یې خبری وکړې، کافرانو به هم ویل چی محمد صلی الله علیه وسلم ډیر رشتیاکویه او ډیر امانت داره دی. لهٰذا دنبی علیه السلام خبره ومنی، دنبی علیه اسلام خبره نه منل ځان بربادول دی.

دسورتِ مُلک دکوم آیت تلاوت چی ما وکړی اُوس دهغه تفسیر درته کوم، الله تعالیٰ فرمایي **تَبَارَكَ الَّذِىْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ** ډیر بابرکته او

ډیر لوی دی هغه (ذات) کوم چې دسلطنت او ملک حقیقی مالک دی
**وَهُوَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ** او پر هر شی باندی دهغه قدرت دی، کوم مسکین
چې وغواړی هغه پیسه داره کولای سی او کوم مالداره چې وغواړی هغه
مسکین کولای سی، روغ سړی په فالج سړ کمزوره کولای سی او
دعزت خاوند رسوا کولای سی الله تعالیٰ داسی قدرت لری چې سړی
دشپې روغ بیده سی سهار یې په پښتورګو کی ډبری پیدا سی یا
دوینی کینسر سی، دخدای په قبضه کی ټول شیان دی.

## مرګ د ژوند تر مخه دبیانولو سبب

مخته حق تعالیٰ فرمایي **اَلَّذِیْ خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَیٰوةَ** چا چې ژوند او
مرګ پیدا کړی دی، دلته حق تعالیٰ مرګ تر مخه بیان کړی، زموږ پیر
شاه عبدالغنی رحمة الله علیه په اکابر اولیاوو کی شمارل کیدی، هغه
زما استاد هم دی، هغه زما څخه پوښتنه وکړله چې سړی ته مرګ اول
راځی او که ژوند اول ورکول کیږی؟ دغه سوال سړی ته ورپیدا کیږی
که یا چې ژوند نسته نو مرګ څنګه راځی؟ لاکن الله تعالیٰ مرګ دژوند
ترمخه بیان کړی چې ګوری په خپل ژوند کی مرګ په یاد ونیسی کنې
د پردیس(یعنی دنیا) په ښایست کی به ورک سی او د آخرت وطن به
برباد کړی. نن چې څوک خپل مرګ په یاد نیسی(هغه نر وی که ښځه)
نو دهغو ژوند د اولیاوو ژوند سی او هغه نر هم دخدای دوست سی او
هغه ښځه هم دخدای دوسته سی. رابعه بصریه دغه ښځه څونه لو
دخدای دوسته وه، ډیری ښځې هم دخدای دوستانی تیری سوی دی
بلکې دبعضو بزرګی تر نارینه وو هم ډیره سوې ده.

یو دخدای دوست یوه مینځه رانیوله، مینځی یې دشپې پر تهجد شروع وکړه، هغې وخدای ته دعا کوله چې اې خدایه! ستا چې زما سره کوم محبت دی دهغه محبت په صدقه زما دعا راقبوله کړې، په دا حال کې هغه بزرګ هم را ویښ سو، هغه دمینځې دعا واوریدل، هغه دمینځې څخه پوښتنه وکړل چې اې ښځې! تاته څنګه درمعلوم سول چې حق تعالیٰ ستا سره محبت کوی؟ ستا سره ددې دعوې څه دلیل دی؟ مینځې ورته وویل چې دلیل یې دغه دی چې زما رب په ما اودس تازه کړی او په خپل دربار کې یې په لمانځه کې ودرولم، هم داغه دلیل دی دحق تعالیٰ دمحبت چې ته پر چارپایۍ پروت یې او حق تعالیٰ ماته توفیق راکړی چې ما اودس تازه کړی او دحق تعالیٰ ومخته ولاړه یم او تهجد کوم. په داغه خاطر حق تعالیٰ وفرمایل چې **خَلَقَ الْمَوْتَ** الله تعالیٰ مرګ پیدا کړی دی **وَالْحَیٰوةَ** او ژوند یې پیدا کړی دی.

زمونږ پیر وفرمایل چې په دې آیت کې زبرذسته نصیحت دی چې (اې خلکو) ټول ژوند مرګ هیر نه کړی. دسورتِ مُلک په دغه آیت مبارک کې حق تعالیٰ فرمایی چې ما مرګ پیدا کړی دی او ژوند می هم پیدا کړی دی، که څه هم اول ژوند ورکول کیږی په دې خاطر عقلاً اول ژوند باید نازل سوی وای چې زه ژوند ورکوم بیا مرګ ورکوم لاکن الله تعالیٰ مرګ اول بیان کړی، عُلماء کرام ددې په تفسیر کې فرمایی چې حق تعالیٰ مرګ اول په دې خاطر بیان کړی چې کوم خلک مرګ هیر کړی دهغو ژوند به تر حیوانانو بدتره سی، څوک چې د آخرت تیاری ونه کړئ هغه به دلیونیانو په شان دکناوو وخوا ته، په سینما، وی سی آر، لغځ فلمو، راډیو او خدای خبر نن سبا څنګه خرافات دی په هغو کې به اخته سی. په دې خاطر الله تعالیٰ پر خپلو بندګانو

باندی احسان وکړی چی مرګ یې اول بیان کړی په خاطر ددې چی زما بندګان په ژوند کی مرګ په یاد نیسی که یا، آخرت په یاد ساتی که یا، کوم (سړی چی په) ژوند کی مرګ په یاد نیسی هغه دخدای دوست سی او څوک چی مرګ هیر کړی دهغه ژوند دشیطان ژوند سی. چاته چی دګناوو څخه دځان ساتلو توفیق نه وی حاصل او دهغه زړه په عبادت کی نه لګیږی او هغه ګناوی نه پریږدی او دخدای عبادت نه کوی نو پوه سه چی هغه دخدای څخه ډیر لیری دی، فکر وکی. اول په نفس په زور عبادت وکه، په زور ګناوی په پریږده، نفس (دشریعت) غلام که بیا خدای دخپل عبادت خوند خپله درکوی.

## دخدای په یاد کی د زړه لګولو طریقه

زما خوندو او مندو! دخدای په یاد کی اول زړه په زور ولګوی، په زور ځان ته دخدای دذکر عادت ور واچوی، وروسته به مو عادت سی، بیا نه درڅخه پاتیږی لکه څنګه چی دسیګریټو او د تمباکو عادت نه پاتیږی، چاچی تمباکو نه یې خوړلی په هغه یې وخوره نو هغه به دستی استفراق ووهی لاکن دکومو خلکو چی دسیګریټو او تمباکو دخوړلو عادت سی هغه که سیګریټ او تمباکو نه کړی پیدا نو دلیونیانو په شان پوښتنه کوی چی اې ورورهٔ یوځای سیګریټ پیدا کېدای سی؟ سړی ته چی کله دبد شی عادت ورولویږی نو هغه نه څنی پاتیږی همدغه رنګه کله چی سړی ته دحق تعالیٰ دذکر ښه عادت ورولویږی نو بیا به انشاء الله بې دخدای له نوم اخیستلو به خوب هم نه ورځی.

کوم خلک چی بې دخدای له نوم د اخیستلو بیدیږی ذا هغه غافله خلک دی کوم چی تر اوسه دخدای دنامه دخوند څخه ناخبره دی.

ځنګه چې دتمباکو عاشقان پوښتنه کوي چې تمباکو چېرې پيدا کيږي همدغه رنګه کوم خلک چې دخدای عاشقان دي هغه هم دخدای ددوستانو څخه پوښتنه کوي چې خدای چيرې حاصليږي؟ او ځنګه حاصليږي؟ دسيګريټو په محبت خو مو سر خلاص سو، دخدای په محبت مو ولې سر نه خلاصيږي؟ دخدای محبت خوش نصيبه ښځو او خوش نصيبه خلکو ته حاصليږي، خوش بخته خلک دغه پوښتنه کوي چې خدای ځنګه حاصليږي. خدای په عبادت سره حاصليږي، دګناوو په پرېښولو سره حاصليږي، (اې ښځو) داسې هيڅکله نسی کيدای چې بې پرده هم ګرځه او دخدای دوستي به هم درته حاصله سي.

## دبدنظرۍ کونکو دپاره دنبي عليه السلام ښرا

لهٰذا نر وي که ښځه هر څوک چې ګناه کوي پر هغه باندې دخدای لعنت اوري نبي عليه السلام فرمايي **لَعَنَ اللّٰهُ النَّاظِرَ وَالْمَنْظُوْرَ اِلَيْهِ** دغه حديث شريف دی، نبي عليه السلام فرمايي چې الله دې لعنت وکړي پر هغه نر باندې کوم چې ښځو ته ګوري او لعنت دې وکړي پر هغه ښځه باندې چې خلکو ته ځان ښکاره کوي (يعنې بې پرده ګرځي).

چادرې دنه کولو دپاره دګرمي بهانه کوي لاکن کباب او وريجې پر کيس باندې د اور ومخته پخوي هغه وخت نه وايي چې ګرمي مو کيږي صرف نس ته کباب او وريجې د اچولو په لالچ کي د اور ګرمي پر ځان وړي، هلته شکايت نه کوي لاکن دخدای په حکم کي بهانې کوي راته ووايئست چې پر داسې ښځو باندې به دخدای لعنت اوري که يا؟ پر هغه خلکو باندې هم لعنت اوري کوم چې ښځو ته ګوري او پر هغه ښځو باندې هم لعنت اوري کوم چې بې پرده

کړځي. دغه دنبي علیه السّلام ښرا ده نن خلک خو د ولیانو او پیرانو دښرا څخه بیرېږي لاکن دنبي علیه السلام د ښرا څخه نه بیرېږي دچا دغلامی په صدقه چي بزرګي او پیري حاصلېږي. لهذا هر وخت چي دي یو ښایسته هلک یا انجلی ته دکتلو زړه وغواړي نو دستي دنبي علیه السلام لعنت در په یاد کړه چي دا زه څه کوم، زه د نبي ښرا پر ځان اخلم. زه خو په دې خبره غمګین یم چي کله انسان د نفس غلام سی او دخدای سره یې تعلق کمزوری سی نو بیا داسی لیونیانو ته خدای ورپه یادیږی هم نه.

## دسترګو زنا

راته ووایاست! کله چي دیو چا ومخته یو ښایسته شکل وی هغه وخت دبخاری شریف حدیث دهغه په یادیږی چي **زِنَا الْعَيْنِ النَّظَرُ** (دښځو) وخلکو ته او (دخلکو) وښځو او لغړزنی هلکوانو ته کتل دسترګو زنا ده. دغه خبره نبي علیه السلام فرمایي که ښځه یوه سړی ته وګوری یا سړی یوې ښځې ته وګوری نو د دواړو دغه حکم دی چي دا دسترګو زنا ده او **زِنَا اللِّسَانِ الْمَنْطِقُ** دژبې زنا دغه ده چي یو سړی دښځې سره خبری کوی او دهغې سره اندیوالی کوی لاکن شهوت چي پر چا سپور وی بیا دغه حدیث چیری دچا په یادیږی چي دنامحرمو سره په شهوت سره خبری کول دژبې زنا ده، د ښه ښه دین داره خلکو دغه خبره نه یې په یاد، دغه د زړه دسختي علامه ده، دخدای سره دکمزوره تعلق خبره ده، داسی سړی مخلص نه معلومیږی، که دده نیت صحیح وای، دخدای ذات یې مراد وای نو به یې فکر کړی وای چي دا زه څه کوم، داسی سړی دنفس غلام دی، تر اوسه دخدای صحیح بنده نه دی جوړ سوی کنې

دخدای حکم به یې ضرور په یاد سوی وای چې دا زه څه کوم خدای خو راته ګوري.

زما یو شعر دی دغه واوری کوم خلک چې داسې فکر کوی چې ماته هیڅوک هم نه ګوري دغه شعر په خاصه دهغو دپاره دی

جو کرتا ہے تو چُھپ کے اہلِ جہاں سے
کوئی دیکھتا ہے تجھے آسماں سے

**ترجمه:** څه چې ته کوې په پټه له جهانه، څوک درته ګوري له آسمانه

کله چې ښځه یو سړی ته ګوري نو الله تعالیٰ ودغه عمل ته ګوري چې دغه بې غیرته، بې حیا څه کوی. دبُخاری شریف حدیث دی چې نامحرمه ښځې ته، دیو چا خور او مور ته کتل دسترګو زنا ده همدغه رنګه دښځو وخلکو ته کتل او د انجونو وهلکوانو ته کتل دسترګو زنا ده او دهغو سره خبری کول دژبې زنا ده لاکن نفس سړی ته دغه وایي چې اې ورورہ! یو څو شپې ژوند دی عیش وکه، داسې خلکو ته به په قبر کې ورمعلوم سي چې ژوند مو پر کوم شی ضایع کړی.

## دبې حیایی نوی نوم

نن بعضی خلک ځان فیشنی بولې په ځان فخر کوې چې زما لور ډیره فیشنی ده په کالج(فاکولته) کې اول نمره راځې او په اخبارو کې دهغې عکسونه راځي، یو حد وی دبې شرمی په اخبارو کې دلور عکسونه ورکول کیږی، دغه کوم خلک دی؟ دا مسلمانان ورونه دی، حاجی صاحبان دی، تسبیح یې هر وخت په لاس کې دی لاکن که یې

لور اول نمبر کامیابه سی نو دهغې نوم او عکسونه په اخبارو کی او په تیلیویژن کی ورکول کیږی، دا څنګه اسلام دی.

## دپردې اهمیت

دنبی علیه السلام په کور کی دوې بی بیانی ناستی وې، حضرت عبدالله ابنِ اُم مکتوم ړوند صحابی راغلی نو نبی علیه السلام وخپلو ښځو ته وفرمایل **اِحْتَجِبَا** تاسی دواړه پرده وکی، بی بیانو وویل چی ای دالله رسوله **اَلَيْسَ هُوَ اَعْمٰى** آیا دی ړوند نه دی؟ نبی علیه السلام وړته وفرمایل **اَفَعَمْيَا وَانِ اَنْتُمَا اَلَسْتُمَا تُبْصِرَانِهِ** ای زما ښځو! آیا تاسی هم ړندې یاست؟ آیا تاسی دته نه کوری.

(ترمذی ابواب الآداب جلد ۲ صفحه ۱۰۲. مشکوٰة کتاب النکاح باب النظر الی المخطوبه جلد ۲ صفحه ۲۶۹)

الله اکبر! نبی علیه السلام په خپلو ښځو باندی دیوه ړانده صحابی څخه پرده وکړل. څونه ګناه چی خلکو ته ونامحرمه ښځو ته په کتلو سره رسیږی هغونه ښځوته هم حرام دی چی نامحرمه خلکو ته کوری.

## دخدای دطرفه څخه دبندګانو درې ازمایښته

حق تعالیٰ ارشاد فرمایی **اَلَّذِیْ خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَیٰوةَ لِیَبْلُوَکُمْ اَیُّکُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا** ای ایمان والو! خلکو او ښځو واوری چی ما تاسی دسینما، وی سی آر او عیش کولو دپاره (دنیا ته) نه یاست را لیږلی، ما تاسی دامتحان دپاره را لیږلی یاست **لِیَبْلُوَکُمْ اَیُّکُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا** چی خدای ستاسی ازمایښت وکی چی تاسی پر خپل خواهش باندی عمل کوی او که دخدای پر خواهش او دخدای پر مرضی باندی ژوند تیروی.

علّامه آلوسی السید محمود بغدادی په خپل تفسیر روح المعانی کی دنبی علیه السلام دژبې مبارک څخه بیان سوی ددې آیت درې تفسیره نقل کړی دی. اې زما خوندو او مندو! په فکر سره دغه تفسیر واوری، حق تعالیٰ فرمایی **لِيَبْلُوَكُمْ اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا** خدای ستاسی ازمایښت کوی، دښځو هم ازمایښت او د نارینه وو هم ازمایښت کوی چې څوک ښه عمل کوی او څوک دنفس او شیطان خبره منی او دګناوو او دغفلت ژوند تیروی، اُوس تاسی ددې آیت تفسیر واوری

## دعقل او دفکر ازمایښت

د **اَحْسَنُ عَمَلًا** اول تفسیر څه شی دی **اَی لِيَبْلُوَكُمْ اَتَمُّ عَقْلًا وَّفَهْمًا** یعنی حق تعالیٰ ستاسی ازمایښت او ستاسی امتحان اخلی چې څوک دعقل خاوند دی او څوک بې عقل دی. په دې پوه سی چې حق تعالیٰ ستاسی ازمایښت کوی چې په تاسی کی کوم نارینه او کومې ښځې دعقل خاوندانی دی او کوم نارینه او کومی ښځې دحیوانانو په شان ژوند تیروی ځکه چې څوک دخدای پر خواهش باندی تګ نه کوی بلکې دشیطان پر لاره روان وی، دګناوو څخه ځان نه ساتی هغه څوک دی؟ تاسی ووایاست چې څوک دخدای پر حکم باندی عمل نه کوی هغه دعقل خاوند دی که بې عقل؟ اصلی بې عقل دغه دی، په دې ښه پوه سی.

## دپرهیز کاری او تقوا ازمایښت

دوهم تفسیر نبی علیه السلام دغه وفرمایلی **اَی لِيَبْلُوَكُمْ اَيُّكُمْ اَوْرَعُ عَنْ مَّحَارِمِ اللّٰهِ** یعنی حق تعالیٰ ستاسی ازمایښت کوی چې څوک دی چې دخدای حرام کړی او منع کړی خبرو څخه ځان ساتی او په تقوا او په

پرهیزګاری سره اوسیږی. نر وی که ښځه ددغه ازمایښت دپاره خدای تاسی پیدا کړی یاست چې معلوم سی چې خوش بخته سړی هغه دی چې د امتحان په شپو کی د امتحان تیاری کوی.

عیش به په جنت کی درسره کوو انشاءالله، حق تعالیٰ ذی په خپل رحمت سره زموږ دټولو خاتمه پر ایمان را وکړی. په جنت کی به بیا عیش درسره کوو. دنیا خو دامتحان ځای دی، ددنیا څخه جنت مه جوړوه، دحیوانانو په شان (چې هر چیری دی زړه غواړی هلته) سترګی او غوږونه کاروې، دجنت دحاصلولو دغه طریقه ده؟ وګوری قرآن پاک څه اعلان کوی؟ په ګناوو کی که چاته مرګ راغلی نو دهغه مخ به هم تور کړل سی يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ او دنیک بندګانو مخان به روښانه او ځلیږی او دګناهکارانو مخان به تور سی لکه څنګه چې په باغ و حش کی بیزوګانو ته ګوری، خدای دی موږ ټوله دمخ توریدو څخه وساتی.

## دخدای د اطاعت ازمایښت

دریم تفسیر څه شی دی لِيَبْلُوَكُمْ اَيُّكُمْ اَسْرَعُ اِلٰى طَاعَةِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ یعنی اې خلکو او ښځو! حق تعالیٰ ستاسی ازمایښت کوی چې دخدای عبادت څوک په شوق سره کوی او څوک په شوق سره دخدای فرمانبرداری کوی مثلاً دلمانځه وخت راسی نو لمانځه ته ځغلی، روژه راسی نو روژې نیولو ته تیار وی که ښځی یې مخته راسی نو سترګی کښته کړی، او دښځو ومخته که نارینه راسی نو ښځی سترګی کښته کړی، د درواغو او غیبت څخه ځان ساتی، مطلب یې دا دی چې دخدای فرمانبرداری ته هر وخت تیار وی.

## دخدای نوم عزیز او غفور یوځای د نازلیدو راز

دقرآن شریف یو بل آیت دی **وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْغَفُوْرُ** الله تعالیٰ عزیز او غفور دی. عزیز معنٰی زبردسته قدرت والا او غفور معنٰی بخښونکی او معاف کونکی لهٰذا (ای خلکو) تاسی دخدای دبخښښ قدر وکړی. کله چي دطاقت خاوند یو څوک وبخښی نو دهغه بخښښ قدر کیږی او که یو سړی کمزوره دی، تبه یې ده، هغه که چاته ووایي چي خه ما ته بخښلی یې نو کوم سړی چي یې وبخښی هغه به ورته ووایي چي آیا په تا کی د انتقام د اخیستلو طاقت هم سته که یا؟ ته خپله کمزوره یې ته به په ما څه وکې؟ لاکن الله تعالیٰ فرمایي چي زه د ډیر زیات طاقت خاوند یم، په کوم عذاب کی چي وغواړم په هغه کی دی اخته کولای سم، که وغواړم نو ستا څخه سپی او خنزیر جوړولای سم او په کوم مرض کی چي وغواړم په هغه کی دی اخته کولای سم، بس که زه ستا کناه در وبخښم نو ته زما شکر ادا که. دغه د آیتو تفسیرونه سول.

## دښځو دپاره یو څو نصیحتونه

اُوس یو څو خبری ژر ژر درته کوم دغه لږ په فکر سره واوری ځکه چي اُوس مضمون ختمیږی او زما تقریر پر ختمیدو دی لهٰذا دښځو دپاره یو څو نصیحتونه وړاندی کوم.

## خاوند راضی کول

اې ښځو خاوند مه خوابدی کوی، دهغه سره په بد اخلاقی خبری مه کوی کنې ستاسی ټوله حج او ټوله عبادتونه به ضایع سی، دغه خبره په حدیث پاک کی راغلې ده، نبی علیه السلام فرمایي چي

کومه ښځه دخپل خاوند نافرمانی کوی او دهغه زړه ور ازاروی او دهغه پر رابللو باندی نه ورته راځی او خاوند خوابدی ځنی بیده سی نو تولـه شپه پر هغه ښځی باندی لعنت اوری. په دې خاطر خاوند مه خوابدی کوی، که یو وخت غلطی درڅخه وسی نو بخښنه ځنی وغواړی او راضی یې کړی، کنې ټوله شپه که تاسی تسبیح ووایاست خو قبلیږی به نه.

بعضی وخت ښځه وکوری چی خاوند می تسبیح وایی نو دا هم دپښتو دانو تسبیح را وباسی او ورته وایی چی ته څه را څخه خوابدی یې، زه هم تسبیح دربانـدی وایم، داسی تسبیح به دربانـدی ووایم چی لیونی به دی کم، ځان ته ډیر پیر او صوفی وایه، دپښتو دانو تسبیح به داسی چپه دربانـدی ووایم چی دژړا دپاره به اوښکی هم نه کړې پیدا، دغه نن سبا مقابله شروع ده، په دې پوه سه چی خاوند په داسی خبرو باندی په خوابدی کولو سره به ټوله شپه لعنت دربانـدی اوری لهٰذا ښځو ته پکارده چی خپل میړونه راضی کړی او معافی ځنی وغواړی.

## مور او پلار ته دی دخاوند شکایت نه کوی

خپل مور او پلار ته دخاوند شکایت مه کوه، که مور و پلار پوښتنه درڅخه وکړی چی خاوند کالی درجوړوی؟ نو ته دغه مه ورتـه وایه چی هو یو څه کوډړ راجوړوی، او که پوښتنه درڅخه وکړی چی، ستا دپاره چیلکی راوړی نو ته دغه مه ورتـه وایه چی هو کاولی راتـه راوړی او که پوښتنه درڅخه وکړی چی ستا دپاره یې ښه ښه لوښی راوړی دی نو دغه مه ورتـه وایه چی هو یو څه کودرکی یې راتـه راوړی دی. دحضرت تـهانوی رحمة الله علیه دبیانو څخه ما ددې خبری انتخاب کړی دی چی په ښځو کی دناشکری مرض ډیر وی او دناشکری مرض ډیر خطرناکه شی دی. نبی علیه السلام فرمایی چی

ډیرې ښځې دمیړه دناشکرۍ په خاطر او دهغه په ورکړې شي کې عیب د رایستلو په خاطر به دوږخ ته ځي. (اې ښځې) ته دخاوند خخه راضي اوسه انشاءالله بیا وګوره چې په جنت کې څونه درجې درته حاصلیږي.

## دخاوند ناقدري او ناشکري مه کوی

دخاوند ناقدري مه کوه، دهغه احسان منونکې او شکر ګزاره اوسه، دخاوند کور چې هر څنګه وي، هر څنګه ډوډۍ چې په تا خوري، هر څنګه کالي چې درته راوړي ته شکر ادا که چې دخدای احسان دی. مور و پلار ته ووایه چې الحمدُ لله زه ډیر پر آرامه یم. ناحقه مور و پلار ته ویل دهغو زړه ازارول دي. که یو تکلیف هم دخاوند څخه درورسیږي نو مور و پلار ته مه وایه، دوه رکعته صلوٰة حاجت وکه او وخدای ته وژاړه او زه تاسی ته یوه وظیفه درښووم.

## دخاوند زړه د نرمولو وظیفه

که دي خاوند په عذابوي، خوشک دی، پر کوچنی کوچنی خبرو باندی خوشکی درته کوی نو مور و پلار ته په ویلو سره هیڅ هم نه کیږي، بې له دې چې مور و پلار به دی پر خاوند دعوه وکړي، تر طلاقه به نوبت ورسیږي، کور به دی برباد سی، کوچنیان به هم درڅخه پاته سی.

لهٰذا زه تاسی ته یوه وظیفه درښووم چې بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اووه واره ووایاست او پر اُوبو یې دم کړي، کله چې ډوډۍ پخوی نو په داغه دم کړي اُوبو یې پخوی او دچیښلو پر اُوبو یې هم دم کړي،

انشاءالله پر تولـه کـور بـه درحـمـت شان غـالـب سی، د قـهر مرض بـه مو دکوره ځخه ووځی.

دجدې(سعودي) ځخه ما تـه خط راغلی لیکلی یې وه چې زما دخپلی ښځی سره جنګونه دی او دکوچنیانو سره می هم جنګونه دی، ټوله دخوشکی په مرض اخته یو، ما داغه ورتـه ولیکل چې کله دسترخوان اوار کړې نو پر ډوډی باندی اووه واره **بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ** وایه، یوه میاشت وروسته یې خط راغلی لیکلی یې وه چې دځه وخت ځخه چې مونږ دخوړلو او چیښلو پر شیانو باندی **بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ** وایو نو دټولو خوشکی ورکی سوې، پر ټولو درحمت شان راغلی، د **رَحۡمٰن** او **رَحِیۡم** په نامه سره درحمت ظهور وسو، په زړه کی مو درحمت شان غالبه سو.

لهٰذا که تـه غواړې چې زما دخاوند زړه نرم سی او زما پر کـوچنیانو باندی رحم وکی، دقهر مرض ځنی ورک سی نو دغه وظیفه اووه واره درې سره وخته پر چایو باندی هم، دغرمې پر ډوډی باندی هم او دماښام پر ډوډی باندی یې هم وایه بیا وګوره انشاءالله درحمت باران به درباندی وسی. دوهمه وظیفه داده چې دخاوند ونحته په زړه کی **یَاسُبُّوۡحُ یَاقُدُّوۡسُ یَاغَفُوۡرُ یَاوَدُوۡدُ** دغه ځلور نومه وایه او د خوړلو او چیښلو پر شیانو باندی یې هم وایه، کله چې دی خاوند اُوبه وغواړی نو پر اُوبو باندی اووه واری **یَاسُبُّوۡحُ یَاقُدُّوۡسُ یَاغَفُوۡرُ یَاوَدُوۡدُ** دم که او په خاوند یې وچیښه، که دی خوابښې په عذابوی نو په هغې هم د **بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ** او د **یَاسُبُّوۡحُ** وظیفې دم کړی اوبه وچیښه انشاءالله خوابښې به دی دلور په شان منی.

# دخوابنې سره صحیح ژوند کول دعقل نښانې ده

لاکن ته هم لږ فکر کوه او دخوابنې سره شخړې مه کوه، کنې په دې پوه سه چې یوه ورځ به ته هم خوابنې سې، که نن ته دخپلې خوابنې سره شخړې کوې نو سبا به بیا ستا نږور ستا سره شخړې کوې. خوابنې ستا خاوند روزلې دی، اُوس که یې ته ماندینه سوې نو ددې دغه مطلب خو نه دی چې ته هر وخت خاوند ته په غوږ کې خبرې کوه او دمور و پلار محبت یې په (زړه کې) ورکم که بلکې د مور و پلار محبت نور دمیره په زړه کې ور ډیر که، خاوند پوه که چې د مور و پلار عزت وکړې او دهغو خیال وساتې.

په حدیث پاک کې راغلې دی چې څوک دخپل مشرانو ادب کوی نو دهغه کشران به بیا دهغه ادب کوی. ته (دخوابنې او نورو) مشرانو ادب وکه ستا کشران به بیا ستا ادب کوی، ادب وکه ادب به دې کیږی، که دې خوابنې خوشکه وې او هر وخت ترخې ترخې خبرې درته کوی نو خوابنې ته چې پر دسترخوان باندې ډوډې ایږدې نو پر ډوډې باندې اووه واری **بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ** ووایه او پر اُوبو یې هم دم که، که دګرمی میاشت ده نو اُوبه په یخچال کې دم کړې کښیږده مګر دخوابنې ومخته اُوبه مه دموه که دې خوابنې ووینې چې پر اُوبو یو شی دمه یې نو دستې به دې یو بل سوتې ووهې او وایې به چې بدبختې جادو راباندې کوې ته خو به **بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ** پر وایې مګر شیطان به یې (په زړه کې) بدګمانې ور واچوی چې وګوره جادو راباندې کوی، په دې خاطر چې کله دې خوابنې تشناب ته ولاړه سی یعنې چې هغه نه درته ګوری هغه وخت اووه واره **بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ** او

اووه وارد يَاسُبُّوْحُ يَاقُدُّوْسُ يَاغَفُوْرُ يَاوَدُوْدُ پر ډيرو اُوبو باندې دم که او دغه اُوبه په يخچال کې کښيږده، کله چې خوابنې دې تږې سي نو دغه دم کړې اُوبه ورکوه، هغې ته مه وايه چې ما يو شي پر دم کړی دی او دميره څخه يې هم په پټه دم که کښې خاوند به دې هم په شک کې سي چې دا جادوکړه ده شوندان يې بنوري معلومه نه ده چې څه راباندې وايي.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ او يَاسُبُّوْحُ يَاقُدُّوْسُ يَاغَفُوْرُ يَاوَدُوْدُ دغه دالله تعالى نومان دی، په يقين سره درته وايم چې پر کومو ښځو باندې ميړو ظلمونه کول ددغه نومانو په برکت سره نن هغه په مينه او محبت سره اوسيږي.

## دبهشتي زيور کتاب د اوومې حصې مطالعه

او د بهشتي زيور کتاب اوومه جصه په څو واره ووايا‌ست، نارينه دی يې هم وايي او ښځې دی يې هم وايي، په دغه سره به اخلاق سم سي، په دغه حصه کې د اخلاقو د اصلاح خبرې دی. انشاءالله تاسې ته به ډيره ګټه حاصل سي.

## فضول مصرف مه کوئ

او بل نصيحت دغه دی چې اسراف او بې ځايه مصرف مه کوی. مثلاً ديوه خراغ ضرورت دی او لس دی لګولي دی يا ډوډۍ دی تر ضرورت ډيره پخه کړه ورروسته يې غورځوې او رزق پر امبارو لويږی دا سخته بې ادبي او ناشکري ده، په ناشکرې سره نعمت

واخیستل سی، ددې خیال وساته چې بې ځایه مصرف درڅخه ونه سی، دخاوند مال دضرورت پر ځای مصرفوه.

## دخاوند څخه ډیر فرمایشونه مه کوه

یو نصیحت دغه دی که یو ځای واده وی نو خاوند ته دغه مه وایه چې نیوی کالی راته راوړه په دې خاطر که په میاشت کی څلور ودونه وه نو هر واده ته به خاوند نوی کالی درته راوړی؟ پر بیچاره به څونه بار وی، دونه پیسې دکومې خوا پیدا کړی، که پیسې ورڅخه هم دی او خاوند دی پیسه داره دی بیا هم دغه روا نه ده بلکې دشریعت حکم دی، د الله او رسول حکم دی چې په داسی سینګار سره دکوره مه راوځی چې په هغه کی بې پرده ګی وی لکه څنګه چې دجاهلیت په زمانه کی ښځې کرځیدلې.

حق تعالیٰ فرمایي وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىٰ تاسی دتیری زمانې دجاهلانو په شان مه کرځی لکه څنګه چې دجاهلیت په زمانه کی دښځو طریقه وه. لهٰذا تاسی دجاهلانو په شان ځان په سینګارولو سره دکوره مه راوځی، واده ته په ساده کالو کی ولاړی سی، دکور کالی واغوندی بیا ولاړی سی، نوی کالی په اغوستلو سره دنامحرمه خلکو ومخته ورتلل دا دښځې دپاره حرام او ګناهِ کبیره ده.

ښځې ته به خدای لس لس جوړې کالی ورکړی وی، بسته به یې دکالو ډکه وی لاکن که یو واده ته تک وی نو خاوند تر پښنه راکشوی چې نوې جوړه کالی راته راوړه زه نوې جوړه کالی اغوندم بیا واده ته ځم چې په ښځو کی زما عزت وی، اې ښځو عزت په کالو سره نه دی، عزت خپل رب په راضی کولو کی دی. هغه بنده دعزت خاوند دی دچا

څخه چې رب راضي وي او هغه ښځه دعزت خاونده ده دچا څخه چې حق تعالیٰ راضي وي.

کوري ما ته دعلّامه سید سلیمان ندوي رحمة الله علیه شعر راپه یاد سو دونه لوی بزرګ فرمایي

هم ایسے رہے یا کہ ویسے رہے
وہاں دیکھنا ہے کہ کیسے رہے

**ترجمه:** موږ (په دنیا کې) داسې وه اوسیږو که هغسې، هلته (په آخرت کې) به ګورو چې څنګه اوسیږو

زما خوندو او مندو! ددې فکر وکړی چې دقیامت په ورځ به زموږ څه قیمت وي. لږ که دې ښه کالي واغوستل او یو څو ښځو ستا صفت وکړي چې خوری ډیر ښه کالي دې اغوستي دي نو ته وپړسیدې (خوشحاله سوې)، دبندګانو په صفت خو ته خوشحاله سې لاکن ددې فکر نسته درسره چې دحق تعالیٰ په نظر کې زه څنګه یم، دعزت (او نمایش) دپاره کالي اغوستل حق تعالیٰ نه دي خوښ کړي.

کوري دیوې انجلۍ واده وو، امزولانو یې سینګار وروکړی، وروسته ټولو امزولانو ورته وویل چې اې خورې نن ته ډیره ښه ښکاریږې نو هغه انجلۍ په ژړا سوله او ورته وې ویل چې ستاسې په صفت څه کیږي؟ چې زه واده سم او زما خاوند ماته وګوري او راڅخه خوشحاله سي بیا زه خوشحالي کوم. دغه قصه په اوریدلو سره یو بزرګ په ژړا سو او وې ویل چې اې دنیا والو تاسې چې زما هر څونه صفت وکی لاکن په دې صفت زما هیڅ فایده نه کیږي دقیامت په ورځ چې حق تعالیٰ راڅخه

خوشحاله سی نو هغه ورځ تاسی پوه سی چې ښځې څومره قیمتي دی. اې بنځو تاسی څه د انسانانو دصفت په قصه کي یاست.

لهٰذا دشریعت حکم واوری چې په ساده کالو کی ولاړی سی، استعمال کړی کالی دیو ځای دپاره اغوستل دعزت خلاف خبره نه ده. داسی ځای ښه کالی اغوستل چیری چې دنامحرمه نظر دربانذی ومبتلي، دغه خبره خو دغیرت هم خلاف ده او د احتیاط هم خلاف ده. د نوی کالو فرمایش کول دا پر خاوند باندی ظلم دی، شل جوړې کالی خو اوس تاته په بسته کی پرتې دی که په میاشتی کی څلور ودونه وه نو څلور جوړې کالی نور درته راوړی.

که دی خاوند مُلا دی او زر رینه (رین دجنوبی افریقه پیسې ده) یې تنخوا ده بیا خو دبیچاره خیر نسته، دمُلایانو ښځې خو نور هم باید ددې خبری خیال وساتی.

## دمال صحیح مصرف

لاکن که دی خاوند پیسه داره دی، تجارت کوی نو ته دغه پیسه وغریبانو ته ورکه، دیو مسکینی انجلی په واده کی یې مصرف که، دغریبانو سره کومک وکه، خیرات یې که، په یو مسجد کی یې مصرف که، په مدرسه کی یې مصرف که، دیو مُلا بیچاره دلور واده ور وکه، دیو مُلا که زر رینه تنخوا ده نو دهغه سره کومک وکه، دغه پیسه (په آخرت کی) ستا په کار درځی، دغه ستا سرمایه ده، دغه به آخرت ته نقل سی، دقیامت په ورځ به ددې انعام تاته درکړل سی.

کله چې حج ته ځې نو هلته د ریال فکر درسره وی که یا؟ دهغه مُلک دپیسو فکر درسره وی که یا؟ بس دمرګ وروسته چې مور

وخدای ته څو نو هلته زموږ سرمایه هم پکاریږی، هغه وخت دی دغه دمسکینانو سره کومک په کار درځي. ښه ډیره سرمایه وآخرت ته نقل که، په خاصه دعُلماوو دلوبو په ودو کی ددې ډیر خیال وساته ځکه چې دعُلماوو تنخوا هر ځای کمه ده، دلته په جنوبي افریقه کی هم دعُلماوو تنخوا کمه ده، زر رینه یې تنخوا ده، درې نیم سوه رینه دکور کرایې ته ورکی نوری څو ورپاته سوې، تاسی ووایاست چې په شپږ نیم سوه رینه دخپل لوبو ودونه څنګه ور وکی او خپل کور څنګه په جوړ کی.

که خدای تاته مال درکړی دی نو دخپل کلی دمسجد دعُلماوو امداد وکه، که نن دجنوبي افریقې خلک صرف دخپل خپل کلی دعُلماوو دلوبو واده ور وکی او هغو ته خپلی هدیې او تحفې ورکړی چې هغه خپل کور په جوړ کړی نو بیا وګوری چې جنت انشاءالله څنګه ورته حاصلیږی.

نن زه دغه ګورم چې دعُلماوو بیچارګانو تنخوا زر رینه ده او دپیسه داره خلکو په لس زره رینه هم کار نه کیږی، وایي چې مُلا صاحب دبرکت او دپیسه داره کیدو دعا خو راته وکه او کته یې شل زره رینه ده بیا یې هم کار نه په چلیږی او مُلا صاحب بیچاره تر زر رینه که پنځه سوه رینه دبالا کیدو فرمایش وکی نو دمسجد مشران نعرې شروع کړی، دداغه مشرانو څخه پوښتنه وکی چې ستاسی دمیاشتی مصرف څو دی؟.

په دې خاطر زما خوندو او مندو! زه دغه درنه وایم که خدای تاسی ته ډیر مال درکړی دی بیا هم دبنادی دپاره د نوی نوی کالو فرمایش مه کوی، داغه پیسه دخدای په لار کی مصرف کړی او کوم چې

ستاسی دمسجد امام وی، مؤذن وی، علماء وی دهغو دلونو په ودو کې حصه واخلی، دهغو کور د ور جوړولو فکر وکړی.

# دکوزدې وروسته بې له نکاح دهلک او انجلی سره لیدل حرام دی

دلته جنوبی افریقې ته د راتک وروسته په دغه خبره می زړه ډیر درد وکی چې خلک دکوزدې وروسته دنکاح تړلو ترمخه هلک دخپلی لور ومخته کی، دهلک سره یوازی دناستی او په موټر کی دهوا خوری اجازه ورکړی، په دې نه پوه سی چې تر څو نکاح ونسی د زوم وکور ته راتلل روا نه دی، هغه نامحرمه دی، خپله لور دهغه ومخته کول حرام دی، کناهِ کبیره ده او بې غیرتی هم ده، که دونه فکر درسره دی نو نکاح یې ور وتړه، په دوې دقیقې کی یې نکاح تړل کیږی، دنکاح وروسته اوس خپله لور ورسره واستوه، صرف دکوزدې وروسته هیڅوک په لور خپل زوم ته چای نسی ور لیږلای او دهغه ومخته یې بې پرده کولای نسی.

لاکن زه یې دلته وینم چې کوزده یې وسول تر اوسه یې نکاح نه ده تړل سوې او لونی دهغو ومخته را روانی دی او چای ورته راوړی او مجلس ورسره شروع دی، په تنهایی کی خبری هم ورسره شروع دی بلکې غضب خو دغه دی چې دهغه سره یوازی په سفر هم روانی دی، آیا دغه کناهِ کبیره نه ده؟ آیا دغه دخدای غضب رانیول نه دی؟ هم دغه سبب دی چې نن هر یوه ته کورې هغه په عذاب دی، هر طرف ناقراری ده، مال خو ډیر دی لاکن آرام نسته. په دنیا کی په کناوو سره عیش حاصلونکی او دخدای نافرمانی کونکی نر او ښځی هر وخت ناقراره

وی، په ګناوو کی هیڅاته آرام او قرار نه حاصلیږی، قرار خدای تعالیٰ صرف په خپل لاس کی ایښی دی.

الله پاک فرمائی اَلَابِذِكْرِ اللهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ دزړه قرار صرف دخدای په یاد کی دی. بس اې ایمان والو! نر وی که ښځه صرف دخدای په یاد کی ستاسی زړه ته آرام او قرار حاصلیږی، په وی سی آر، سینما، دخلکو ومخته بې پرده ګرځیدل، خپلی لوڼی کالج(فاکولتې) ته لیږل او دهغو دعیسویانو هلکوانو سره خندا او خبری کول دغه ټوله عذاب دی، هیڅوک پر آرامه نه دی، نه هلکوان پر آرامه دی نه انجونی پر آرامه دی، تاسی یې وګوری! په رنګ رنګ ناجوړیانو، په رنګ رنګ تکلیفو اخته دی، حق تعالیٰ په خوابدی کولو سره خپل ځان او اولاد دوږخ ته اچول تر دې بدتره به زموږ څه بد اخلاقی وی.

ښځه خپله خو حج وکړی حاجانی سی او پلار حاجی صاحب سی او تسبیح هم ډیری اړه یې مګر اولاد یې پر ټیلیویژن او وی سی آر باندی لڅ فلمونه ګوری او هلک چی دهری انجلی سره او انجلی چی دهر هلک سره وغواړی ولاړه سی، په هوټلو کی ډوډی خوری، پارکو ته ځی، دبې پرده ګی په عذاب اخته دی او د ژړا خبره خو دغه ده چی تر اوسه یې فقط کوژده سوې ده یعنی صرف د واده خبری یې سوی دی نکاح یې نه ده سوې او هلک دخپلی لور ومخته را ولی او دخبرو او په موټر کی دهوا خوری اجازه ورکړی، تاسی راته ووایاست! دغه څونه لو ګناه ده، حرام دی چی دیو چا لور او خور ته بل سړی ګوری.

بې له نکاح زوم کور ته راغوښتل، په لور هغه ته چای ورلیږل او دهغه سره خبری کول څونه لوی جرم دی، که ستا تلوار دی نو یو مُلا راوغواړه نکاح یې ور وتړه، واده یې دوه کاله بعد ورو که، که ته اوس

دلور دپاره زر او کالی نه لري او دمعاشرې او دخلکو بیره درسره ده (چې خلک به څه وايي) نو واده یې وروسته ور وکه، که دخدای بیره درسره وای نو په سادګی سره دسنت پر مطابق په یوه جوړه کالو کی به دی لور رخصت کړې وای، خیر نکاح یې ژر ور وکه چې دهغه هلک ومخته ستا دلور ورتګ روا سی، ناسته او ولاړه، تګ او راتګ، خندا او خبری ټوله ورسره روا سی ځکه چې دنکاح وروسته دهغه هلک ماندینه سول.

په پاکستان کی هم دغه ګناه شروع ده، ډیرو هلکوانو زما څخه پوښتنه وکړل چې دنکاح تر مخه زما خوابنې او خسر ما غواړی چې راسه زموږ کورته ډوډی راسره وخوره، زموږ دلور سره خبری وکه، ما مسئله ور وښوول چې دغه شرعاً حرام دی، تر څو چې نکاح ونسی دهغې انجلی سره خبری کول هغې ته کتل او لاس وروړل ګناهِ کبیره او حرام دی او دخدای دغضب لار ده. دګناوو په خاطر نن آرام نسته، هر چیری چې ګورې ناقراری او ناآرامی ده.

پنځوس کاله تر مخه خبره درته بیانوم چې کوم خلک غریبان وه دچا سره چې به کوچنی ټوټه مځکه وه دهغو زامن به ځوانان وه لاکن بیا یې هم دپیسو هیڅ فکر نه درلودی، په رزق کی خدای تعالیٰ داسی برکت ور ایښی وو چې دشلو او پنځه ویشتو کالو ځوانانو به بازیٔ کولې (خواری به یې نه کښل) لاکن نن دکور هر سړی خواری کاږی مګر خرڅ نه پوره کیږی، په سترګو می لیدلی دی چې بس یو څو ګزه مځکه لری او ځوانان زامن یې غیره باسی، داسی برکت به وو چې په هغه مځکه کی به یې کامیښه هم درلوده، غوا به هم وه، شیدې به یې هم چیښلې او مستې به یې هم خوړلې لاکن نن دکور هر هلک خواری

کاږی لاکن آرام نسته، دټوله دنیا څخه (دکناوو په سبب) آرام پورته سوی دی، آرام خو دخدای په لاس کی دی ځوک چی خدای خوشحاله ساتی خدای هم هغه خوشحاله ساتی او ځوک چی خدای ناراضه کوی نو خدای تعالیٰ هم دهغه زړه ناقراره ساتی، په دغه خبره ښه پوه سی.

## بې له ضرورته د نامحرمو سره خبری مه کوی

اُوس یوه بله خبره واوری چی ښځی دی بې له ضرورته دنامحرمو سره خبری نه کوی، نه دی ښځه بې له ضرورته خپل آواز په نامحرمه اوری او نه دی دونه په زوره خبری کوی چی همسایکان یې واوری، که په یو ضرورت دنامحرمه خلکو سره خبره کول وی نو په نرم آواز سره دی خبره نه ورسره کوی.

دنبی علیه السلام دښځو دپاره آیت نازل سو **فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ** اې دنبی علیه السلام ښځو! په خبرو کی تاسی په نرم آواز سره خبری مه کوی یعنی که په یو ضرورت دنامحرمه سره دخبرو ضرورت پیښ سی نو په خپل قدرتی نرم آواز سره خبری مه کوی، خپل آواز دروند کړی یعنی دخبرو قدرتی انداز بدل کړی بیا خبری وکی او اصحابِ کرامو ته حکم ورکول کیږی که دنبی علیه السلام دښځو څخه تاسی دیو شی پوښتنه کول نو دپردې تر شا یې څنی وپوښتی، داسی نه چی تاسی په پرده مخ ورننه باسی لکه څنګه چی نن سبا د انجونو په مدرسه کی مُهتمم صاحب مخ په دروازه ننه ایستلی یې او د انجونو سره خبری کوی. الله تعالیٰ خو اصحابو ته فرمایی

**وَاِذَا سَاَلْتُمُوْهُنَّ مَتَاعًا فَسْـَٔلُوْهُنَّ مِنْ وَّرَآءِ حِجَابٍ** (سورتِ احزاب)

(اې اصحابو) چې تاسې دهغو(دنبي علیه السلام دښځو) څخه یو شی غواړی نو دپردې تر شا یې څنی وغواړی مثلاً سودا راوړی یا یوه بله ضروری خبره پوښتنه څنی کوی نو دپردې ددیاندی څخه یې څنی وپوښتی.

ما په خپلو سترګو ولیدل چې د انجونو په مدرسه کې مُهتمم صاحب په پرده کې دننه مخ اچولی دی انجونو ته ګوری او خبری ورسره کوی، ما دهغه څخه پوښتنه وکړل چې آیا دغه انجونې ستا نامحرمه نه دی، آیا ددوی څخه پرده کول فرض نه دی؟ دمشرتوب آیا دغه معنی ده چې د انجونو سره بې پرده خبری شروع که.

## د مدرسةُ البنات(د انجونو دمدرسې) په باره کې ضروری هدایات

(۱) دجنوبی افریقه، هندوستان او ری یونین ددې ملکو د انجونو مدرسې دلیدلو وروسته دغه رامعلوم سول چې احتیاط په داغه کې دی چې د انجونو دارُالاِقامه (یعنی په مدرسه کې دشپې دتیریدو ځای) باید جوړ نسی، په دې کی ډیری فتنې دی. انجونی دی د ورځی سبقان ووایی او کور ته دی ولاړی سی.

(۲) استاذانی دی صرف ښځې وی کوم چې انجونو ته سبقان وایی. نارینه استاذان دی دپردې تر شا هم انجونو ته سبقان نه وایی، په دې کی ډیری فتنې ښکاره سوی دی.

(۳) دښځو استاذانو سره دی مُهتمم دپردې تر شا هم خپله خبری نه کوی او نه دی هغوته یو هدایت ورکوی بلکې مُهتمم دی دخپلی ښځې یا دخپلی خاله یا دخپلی لور په ذریعه وښځو استاذانو ته دمدرسې په باره

کی هدایات او د تنخوا د ورکولو او دداسی نورو شیانو اهتمام وکړی او دمُهتمم او دمُهتمم اولاد او د نارینه استاذانو خپله دښځو استاذانو سره په خبرو باندی مدرسةُ البنات(د انجونو مدرسه) په عشقُ البنات (دښځو په عشق) کی د اخته کیدو اندیښنه سته.

(۴) کوښښ دی وسی چی د پنځو(۵) کالو څخه تر نو(۹) کالو انجونو ته ناظره قرآن پاک، حفظ دقرآن پاک او دتعلیمُ الاسلام کتاب څلور حصې او بهشتی زیور کتاب پر دغه تعلیم دی قناعت وکړل سی او که دعالمی نصاب ورته ویل وی نو دعربی په مختصره نصاب دِی تکمیل وسی مګر دشرعی پردې اهتمام سخت ضروری دی کنې دانجونو دپاره داغه ښه دی چی ناظره قرآن پاک، بهشتی زیور او پر حکایاتِ صحابه کتاب باندی دی قناعت وکړل سی او ښځی استاذانی دی هم پرده داره وی.

(۵) دعالمی سبق ویونکی انجونو ته دی دخاوند حقوق او ادب د ور زده کولو اهتمام وسی او دهغو دپاره عالم خاوند باید پیدا کړل سی او که عالم خاوند نسی ورپیدا نو ددینداری شرط ضروری دی که څه هم ډاکټر وی که انجنیر وی.

(۶) د انجونو په مدرسه کی دی دښځو رابطه صرف دښځو سره وی، مُهتمم دی دخپلی محرم مثلاً خپلی ماندینې یا مور یا دخپلی خور په ذریعه دمدرسې دتعلیم او د انتظام په باره کی پوښتنه کوی.

که داسی احتیاط نسی کولای نو د انجونو مدرسه مه خلاصوی او مدرسه بنده کړی، دبل دکتمی دپاره ځان دوزخ ته مه اچوی، دمخلوق دکتمی دپاره انجونو یا ښځو ته سبق ویل یا په پرده کی دهغو سره خبری کول هم دفتنې څخه خالی نه دی، دتجربې څخه دغه معلوم

سوی دی چې دښځو سره په پرده کې خبری کونکی هم په حرام عشق اخته سوی دی، لهٰذا دسلامتی لاره داعه ده چې دښځو څخه دی هر رنګه لیریوالی وی.

## د نوکانو او دشوندانو دسرو کولو حکم

دوهمه ضروری مسئله مې دغه دربنوول چې کومې ښځې دنوکانو رنګ کاروی تر څو چې دغه رنګ پاک نسی لمونځ نه کیږي ځکه چې د نوکانو د رنګ په خاطر اودس نه صحیح کیږی.

همدغه رنګه تر څو چې دشوندانو سوروالی پاک نسی اودس نه صحیح کیږی، لهٰذا ښه فکر وکړی او د نوکانو پر رنګ باندی لعنت ووایاست که دی زره غواړی نو پر نوکانو باندی نکریزی وواهه. په دې ښه پوه سی چې دنوکانو پر رنګ باندی اودس نه کیږی. زما خوندو او مندو! دخدای دپاره پر خپل ځان باندی رحم وکی، د دوږخ څخه ځان وساتی، یو وخت مو هم خدای تعالی ځان ته غوښتلای سی، مرګ راتلونکی دی، یوه نه یوه ورځ تولّه قبرستان ته ځو لهٰذا دنوکانو د رنګ او دشوندانو دسره کولو څخه ځان وساتی. ماته ویل سوی دی چې کومې ښځې دنوکانو رنګ وهی نو هغه یې پاکوی نه پر هغه رنګ باندی اوړس تازه کړی لهٰذا دهغو اودس نه کیږی او ددې په خاطر یې لمونځ هم نه کیږی.

## دښځو وریښتان کوچنی کول دلعنت وړ دی

همدغه رنګه نن سبا ښځې دنارینو په شان وریښتان کوچنی کوی او کوچنی وریښتان پریږدی. نبی علیه السلام فرمایي چې کومه ښځه دنارینه شکل جوړ کړی یا دنارینه په شان کالی واغوندی پر هغې

دی دخدای لعنت وی او چې کوم نارینه دښځې په شان شکل جوړ کړی پر هغه دی هم لعنت وی.

## ښځې دی بجلکی پټی کړی

دښځو بجلکی ښکاره کول حرام دی. نن سبا ښځې قمیص خو اوږد اغوندی لاکن بجلکی یې معلومیږی، دښځو بجلکی هم باید پټی وی. دنارینه دپاره بجلکی ښکاره کول واجب دی او پټول یې حرام دی او دښځو دپاره دغه حکم دی چې بجلکی دی پټی وساتی، دکومو ښځو بجلکی چې ښکاره دی نوله دحق تعالیٰ په لعنت کی مبتلا دی، دخدای عذاب یو وخت هم پر لویدای سی.

## دخاوند د ورور ځخه دپردې حکم

دخاوند د ورور ځخه پرده ضروری ده، دخاوند د ورور ځخه پرده خو داسی واجب ده چې یوې ښځې دنبی علیه السلام ځخه پوښتنه وکړل چې آیا موږ دخپل خاوند د ورور(یعنی لیوره) ځخه پرده وکړو؟ نو نبی علیه السلام ورته وفرمایل چې دخاوند ورور خو مرګ دی مرګ، یعنی څونه چې دمرګ ځخه بیریږې هغونه دخاوند د ورور ځخه وبیریږه یعنی ډیر زیات احتیاط ورځخه وکه. نن سبا دلیوره ځخه پرده دنه کولو په سبب بې شماره فتنې پیدا کیږی، (پرده دنه کولو په سبب) دخاوند ورور هم دغه فکر کوی چې ماندینه نیمه د ورور ده نیمه زما ده، نیم په نیمه یې خپل حق بولی، په اسلام کی چیری ددې خبری اجازه سته. دلیوره ځخه پوره احتیاط وکه او پرده ځنی وکه، که دی لیور خوابدی کیږی نو خوابدی دی سی بس خپل رب راضی که، یو بزرګ فرمایی

سارا جہاں خلاف ہو پروا نہ چاہیئے

پیش نظر تو مرضی جاناں نہ چاہیئے

پھر اس نظر سے جانچ کے تو کر یہ فیصلہ

کیا کیا تو کرنا چاہیئے کیا کیا نہ چاہیئے

**ترجمه:** ټول جهان دې خوابدې سي هيڅ پروا مه کوه، مخته د رب رضا ونيسه بيا په دې نظر فيصله وکړه چې څه وکم او څه ونه کړم

## دماندينې دخور څخه دپردې حکم

همدغه رنګه خاوند ته هم حکم دی چې دخپلې ماندينې دخور څخه چې خوښينه ورته ويل کيږي دهغې څخه هم پرده ده او هغه دی بې پرده خپل مخته نه پريږدي. خوښينه عموماً کم عمره وي، ډير خلک دهغې دعشق په فتنه کې اخته سول، په دې خاطر پر خاوند باندی هم فرض ده چې کله دماندينې خور راسي نو دهغې څخه دی پرده وکړي، دهغې سره دی مجلس نه کوی دا ټوله ګناهِ کبيره او حرام دی. خوښينه دی دخپل خور سره کښيني او د اخښی ومخته دی نه راځی او ماندينه که دی يو ځای ولاړه سی نو (په کور کی) د خوښينی سره تنهايی روا نه ده.

## د وريښتانو دپردې حکم

پر ښځو باندی د وريښتانو پرده فرض ده، کومی ښځی چې په دونه نازک پوړنی کی لمونځ کوی چې د وريښتانو توروالی يې د پوړنی سربيره معلوميږي نو دهغو لمونځ نه کيږي لهٰذا زما خوندو او مندو! په

دي شه يوه سي. که دکرمي مياشت ده او په پنډ پوړنۍ کې ستا کرمي کيږي نو دلمانځه دپاره بو ښه پوړنۍ جلا کښيږده چې دونه پنډ وي چې د وړيښتانو توروالی نه تر معلوميږي بس کفايت کوي.

زه نه درته وايم چې تاټ او بوري پر سر کړې، زه د آرام نسخه درښوم، ما خپل کور خپلې ښځې او نږور ته هم داغه ورښوولې دي، دهغو دلمانځه دپاره جلا پوړنۍ زريږي چې دونه پنډ دي چې د وړيښتانو توروالی نه تر معلوميږي. لهٰذا په دې مسئله سر خلاص کې چې تر کوم پوړنۍ دسر د وړيښتانو توروالی ښکاره کيږي په هغه کې لمونځ نه کيږي.

# دنازکو کالو حراموالی

داسې نازک کالي (ښځو ته) اغوستل چې تر هغه سينه، ملا يا پښې معلوميږي هغه حرام او ګناهِ کبيره ده.

# دکوره څخه په پرده کې وځئ

دکرمي په خاطر پرده نه کوي يا لڅ مخ په بازار کې ګرځيدل دا دښځې دپاره روا نه دي، هر چيرې چې ځې په پرده کې ولاړه سه، بې له پردې دکوره مه وځه. دبازار څخه دضرورت شيان خپل په نارينه راوغواړې. ښځې بايد بې له شديد ضرورته دکوره څخه دباندې ولاړې نسي. همدغه رنګه دلسو کالو انجونې دمکتب په کالو کې دباندې استول روا نه دي.

حکيمُ الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمة الله عليه فرمايي چې په انجلۍ د اووه کالو څخه پرده شروع که، په قراره قراره عادت وروا چوه چې دلسو کالو سي نو بې پرده يې دباندې هيڅکله مه پريږده.

روزانه څونه فتنې پیښیږی، انجونی غلا سی، دلته په جنوبی افریقه کی عیسویان هلکوان مسلمانانی انجونی په خپل عشق اخته کړی، انجونی دهندوانو سره ودونه وکړی دا ټوله دبې پرده کی عذاب دی.

نن سبا دلته یوه بله طریقه هم پیدا سوی ده، یو هوټل دی هلته هلکوان او انجونی ورځی په خپله خوښه ودونه کوی، خپله یو او بل سره خوښه وی، دخبرو انداز سره کوری چی ددې انجلی خبری څنګه دی، شکل یې څنګه دی، دا ټوله ګناهِ کبیره او حرام دی. خپلی انجونی دنامحرمه سره استول کواکې د شرمښ(لیوه) په لاس ورکول دی.

په داغه خاطر درته وایم چی بهشتی زیور کتاب وایاست او پر هغه باندی عمل کوی نو بهشت(جنت) ته به ورسیږی انشاءالله تعالیٰ، ددغه کتاب نوم په داغه خاطر بهشتی زیور(دجنت زر) دئ چی تر جنته پوری درسیدو نسخه پکښی کی ده. بس دا یو څو خبری می درته وکړې.

## شرعی پرده دچا څخه ده؟

او کوری دماما د زامنو څخه، د اکا د زامنو څخه، دخاله د زامنو څخه، د امه د زامنو څخه پرده کول واجب ده لاکن نن سبا په هغو کورو کی هم احتیاط نسته کوم چی دین داره بلل کیږی، همدغه رنګه خلکو ته دخاله د لونو څخه، د اکا د لونو څخه، دماما د لونو څخه، د امه د لونو څخه پرده کول واجب ده. که ستا دپردې په خاطر په خاندان کی څوک خوابدی کیږی نو خوابدی دی سی، بس خپل رب راضی که.

دهندوستان څخه وپاکستان ته د راتګ شپاړس کاله وروسته چی زه د کراچی څخه اِلٰه آباد (هندوستان) ته ولاړم نو دخاله لونی می ومخته

راغلې ، ما ورته وویل چې دا څه غضب کوی خبردار څوک دی زما ومحته نه راځی، په پرده کې اوسی، تحفې تاسی ته ډیری درکوم وارخطا کیږی مه، ما کوچنیانو ته پنځه پنځه لس لس روپۍ ورکړې او دخاله لونو ته می سل سل روپۍ ورکړې صرف په دې خاطر چې دوی دا فکر ونه کړی چې څوک ډیر مُلا سی یعنی دیندار سی هغه خپل ځان دپیسو څخه خلاص کړی او مُلایان کنجوسه وی. ما ددین او دریری دعزت په خاطر هغو ته ډیری پیسې ورکړې چې دوی مُلایانو ته څه ونه وایی او ددین عظمت یې په زړه کی پیدا سی، نو زما په تحفه باندی ټوله خوشحاله سول، بیا ما په نرمی سره پوه کړل چې ستاسی احترام زما په زړو کی سته لاکن څه وکم د الله او رسول حکم دی او اې زما دخاله لونو ستاسی څخه پرده کول پر ما واجب ده. دښځو دپاره دخاله زوی، دماما زوی، د اکا زوی ټوله نامحرمه دی او ددوی ټولو څخه پرده کول ضروری ده.

## خواری کښل دښځې دپاره بې عزتی ده

آه! کوم اسلام چې ښځې ته دونه عزت ورکړی دی چې دهغې دعزت دحفاظت په خاطر یې دبعضو خپلوانو څخه هم پرده په وکړل او ښځه یې دکور ملکه جوړه کړل او عزت یې ورکړی نن دهغه اسلام نوم اخیستونکی خلک خپل خوندی مندی پر هوایی میدانو، په بازارو کی، په طیارو کی، پر راډیو باندی دنامحرمو ومخته رسوا کوی. په طیارو کی یې کار کونکو ښځو ته د ایرهوسټس نوم ورکړی دی لاکن په اصل کی یې هوایی مزدوړانی ځنی جوړی کړې کوم چې په طیاره کی د نورو خلکو خدمت کوی او په نرم آواز خبری ورسره کوی.

دنبی علیه السلام تر ښځو بل هیڅوک نسی پاکیدای دچا دپاره چې قرآن پاک نازلیږی، دهغو دپاره پر نبی علیه السلام باندی دغه آیت نازل سو **فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ** (دنامحرمو سره) په نرم آواز خبری مه کوی، د آواز نرموالی بدل کړی بیا خبری کوی، کنې څه به وسی؟ **فَيَطْمَعَ الَّذِي فِي قَلْبِهِ مَرَضٌ** دچا په زړه کی چې (د شهوت) ناخوړی ده هغه به طمع وکړی، په زړو کی به یې (غلط) خیالات شروع سی. لاکن تاسی یې وینی چې په رادیو کی ښځی څنګه کش وش خبری کوی چې دخلکو په زړو کی دهغو وخوا ته کشش ورپیدا سی. پر هوایې میدانو باندی هم داغه حال دی، دطیارې وخت به درښووی مکر انداز به یې داسی معلومیږی لکه دخلکو زړونه چې وځان ته متوجې کوی. کافران خو پریږده هغه خو ددین مکلفه نه دی لاکن دمسلمانی ښځی دشان خلاف دی چې داسی کار وکړی او دغه خبره دشریعت دحکم ماسوا دطبعی شرافت هم خلاف ده چې د یو شریف سړی لور داسی بې عزته کار وکړی.

په بیان کی چې ما څه وویل انشاءالله تاسی به هغه په بهشتی زیور کتاب کی لیکلی ووینی، په داغه خاطر درته وایم چې بهشتی زیور وایاست انشاءالله تر جنته پوری به ورسیږی، بیا به په جنت کی دعا راته وکی چې دکراچې څخه یو مُلا راغلی وو موږ ته یې څنګه ښې ښې خبری وکړې.

اُوس نو دعا وکړی، الله تعالیٰ دی دعمل توفیق راکړی، موږ او زموږ خوندو مندو ته دی دشرعی پردې توفیق ورکړی او د وی سی آر او د تیلیویژن دلعنت څخه دی حق تعالیٰ زموږ کورونه را پاک کړی او موږ ته دی خپلی اونی دلسو کالو وروسته بې پرده مکتب ته دلیږلو څخه

دحفاظت توفیق راکړی، یاالله! دنبی علیه السلام پر اُمّت باندی رحم وکړې، یاالله! دا نن سبا څه پیښنه ده د اسلام خالی نوم پاته دی، نن اسلام زموږ دلاسه څخه ایستل کیږی، ښځکه شپه او ورځ پر سرکانو باندی ښځی بې پرده ګرځی، اې الله! موږ ته توفیق راکړې، موږ ته خپله بیره راکړې، څه چی بیان سول هغه په خپل رحمت سره قبول کړې او ماته هم او زما خوندو او مندو ته هم دعمل توفیق ورکړې.

یاالله دمرګ یادول په زړه کی را واچوې، دقبر یادول زموږ په زړو کی را واچوې، دقیامت دسوال او جواب او ددوزخ د اور بیره راته عطا کړې، اې الله ددې تولو شیانو یقین راته عطا کړې، زموږ دنیا هم راسمه کړې او آخرت هم راسم کړې، په کومو کورو کی چی شرعی پرده شروع سی دهغو لونو ته صالح میړونه وریه نصیب کړې، کوم مور او پلار چی په خپلو لونو باندی بهشتی زیور ووابی او صالح یې جوړی کړی اې الله! هغو ته نیک او دین داره میړونه وریه نصیب کړې او چی کوم خلک ږیری پریږدی هغو ته هم داسی ښځی وریه نصیب کړې چی صالح وی.

یاالله موږ تولو ته په دنیا کی هم پر آرامه وساته او په آخرت کی مو هم پر آرامه وساته، دبدن دسلامتی او د ایمان دسلامتی سره ژوند راکړې او سلامتی دبدن او سلامتی د ایمان سره مرګ راکړې، زموږ دنیا هم راسمه کړې چی دا پردیس دی او آخرت هم راسم کړې چی هغه زموږ اصلی وطن دی، اې الله ته ددواړو جهانو مالک یې یعنی ددنیا هم او د آخرت هم مالک یې، ته زموږ دواړه جهانه راسم کړې، ته زموږ مالک یې یاالله پلار خپل اولاد په پردیس کی هم پر آرامه دساتلو کوښښ کوی او په وطن کی دهغه دپاره کور او تعمیر


دورجوړولو فکر کوی، ته خو زموږ رب یې موږ دی پردیس (دنیا) ته رالیږلی یو، ته زموږ دنیا هم راسمه کړې چې موږ پر آرامه واوسیږو او تا ډیر یاد کړو او ستا دنافرمانی څخه وسائل سو او زموږ وطن یعنی جنت هم راجوړ کړې او پر ایمان باندی خاتمه راپه نصیب کړې او موږ دقیامت په ورځ بې حسابه وبخښې، موږ هم او زموږ خوندی او مندی هم ټوله وجنت ته داخل کړې، اې الله په خپل رحمت سره زموږ ګناوی را وبخښې، تر اوسه چې مو کومی خطاوی کړی دی هغه را وبخښې او موږ ټولو ته د اولیاوو ژوند راپه نصیب کړې.


اې الله! چا چې ستا او ستا د رسول خبری د اوریدلو انتظام وکړی او زه یې راوغوښتم اې الله ته راغوښتونکی هم قبول کړې، موږ ته پر دین باندی استقامت راپه نصیب کړې، دغه کور ته برکت وریه نصیب کړې په کوم کور کی چې ستا دخبرو او دنبی علیه السلام دخبرو د اوریدو انتظام وسو او زه یې راوغوښتم اې الله! راغوښتونکی هم قبول کړې، ما هم قبول کړې او زما بیان هم راڅخه قبول کړې.


کومی ښځی چې (په پرده کی) دبیان د اوریدو دپاه راغلی دی اې الله هغه هم قبولی کړې او موږ ټولو ته خپل محبت را په نصیب کړې. آمین


## د شیخ العرب والعجم عارف باللہ مجددِ زمانہ حضرت مولانا شاہ حکیم محمد اختر صاحب رحمۃ اللہ علیہ

په پښتو ترجمه سوي کتابونه













ادارۂ تالیفاتِ اختریہ

www.hazratmeersahib.com